# سوات خصوصي توجه غواړي

مشتاق مجروح يوسفزے

د دهشت ګردۍ خلاف جنګ کښې پاکستان ډېر څه بائلل او لګيا دي بائلي او دغه جنګ لا سر ته نۀ دے رسېدلے. په دغې جنګ کښې پښتنو سيمو له د بې ګناه او بې خطا پښتنو په وينو غسل ورکړے شو. کۀ يو خوا وزيرستان او باجوړ تباه او برباد کړے شو نو بل خوا پوره ملاکنډ ډويژن په سرو لمبو کښې وسوځولے شو.

عوامي نېشنل پارټۍ چې د کومې ورځې نه د خپلې صوبې واک اختيار په لاس کښې واخستو نو د ټولو نه وړومبۍ خبره ئې دا وکړه چې زمونږ اولنے کوشش او زيار به دا وي چې په پښتنو سيمو کښې لګېدلے دا اور مړ کړو او يوه د امن و امان فضا جوړه کړو ځکه چې هغوي ووټ په دې خبره اختے وۀ. د دې غرض دپاره هغوي اول کار دا وکړو چې د سوات سيمه، کومه چې په دې جنګ کښې د نورو ټولو سيمو نه زياته زپلې شوې وه، د هغې سيمې د تحريک نفاذ شريعت محمدي امير مولانا صوفي محمد ئې د يوې معاهدې تر مخه رها کړو. دا د عوامي نېشنل پارټۍ له اړخه د امن په لور اخستے شوے وړومبنے ګام وۀ چې د سوات لمبې لمبې فضا ئې د مذاکراتو د لارې د خواخُوږۍ په بادونو يخه کړه او د بارودو په لوګو کښې تت شوي ښائستونه ئې بيا د نوي سره د يوې معاهدې په بنا راښۀ کړل.

د دغې اقدام نه پس د سوات طالبانو سره خبرې اترې شروع شوې چې په نتيجه کښې ئې د هغوي په غوښتنه په هغه نظام عدل، چې پيپلز پارټۍ په ۱۹۹٤ کښې په ملاکنډ کښې نافذ کړے وۀ او بيا په ۱۹۹۹ کښې د اېم اېم اې په حکومت کښې پکښې لږ ډېر بدلون شوے وۀ، په هغې يو ځل بيا دواړو ډلو غور و فکر وکړو او د څۀ ترميماتو نه پس ئې د هغې د نفاذ اعلان وکړو.



د پښتونخوا وزيرِ اعلي امير حېدر خان هوتي په نظام عدل رېګولېشن لاسليک کوي

د دغې اعلان نه پس ځنو اين جي اوز او ځنې هغه

تجزيه نگارانو چې د دې اور د تاؤ نه بېخي ناخبره وو او هيڅ تپ نۀ ورسېدو، هغوي د دې نظام عدل خلاف خبرې شروع کړې. پاکستان کښې صرف ايم کيو ايم په دې ډېر سخت ردعمل څرگند کړو ځکه چې هغه سياسي ډله نۀ ده. صدر مملکت آصف علي زرداري د دغې عدل رېگولېشنز په حقله ووئيل چې کله



پښتونخوا هاؤس کښې ټي اين ايس ايم وفد

په سوات کښې امن راشي نو زۀ به په دې دستخط وکړم. د صدر مملکت دې خبرې د سوات خلق د يو تشويش سره مخ کړل. ځنو خلقو دا خبره شروع کړه چې چونکې دې ته د وفاقي حکومت مرسته حاصله نۀ ده ځکه نو نۀ دا کامیابېدے شي او نۀ به دې سره امن راشي. ځنو خلقو دا ويره ښکاره کوله چې اوس به د نورو سيمو خلق هم د شرعي نظام غوښتنه شروع کړي. ځنو خلقو به د دې باوجود چې دا نظام عدل يوې سوشلسټ پارټۍ په ۱۹۹٤ کښې نافذ کړے وۀ، دا وئيل چې يوې سېکولر پارټۍ داسې کار ولې وکړو؟

بهر کيف کوم عناصر چې د دې مرستيال نۀ وو هغوي قسم قسم خبرې کولې. د عدل ريگولېشنز د نفاذ سره د سوات خلق په سکون شو او ساه ئې واخسته، چرته چې هيڅ يوه ورځ داسې نۀ تېرېده چې لس اتۀ تنه بې گناه پښتانۀ به نۀ قتلېدل، هلته د امن و امان يوه فضا په جوړېدو شوه.

کوم وخت چې د پښتونخوا حکومت دغه عدل رېگولېشنز د دستخط د پاره صدر مملکت ته استولو نو عين په دغه وخت کښې د يوې جينۍ په کوړو د وهلو يوه جعلي وېډيو د مخالفو عناصرو له خوا مېډيا ته راوړې شوه. په هغې وېډيو چې کومې چغې سُورې جوړې کړې شوې نو د هغې څۀ حد او اندازه نۀ وه. د پرائيوېټ ټي وي چېنلو ځنې تش په نوم دانشورانو او تجزيه نگارانو او ايم کيو ايم په خصوصي توگه د دې تشهير شروع کړو او زمونږ چيف جسټس صاحب پرې سوموټو ايکشن هم واخستو. په دې کښې د دې خلقو گڼ مقصدونه وو يو خوا ئې دا غوښتل چې دا معاهده ناکامه کړي او بل صدر مملکت صاحب دې ته جوړ کړي چې هغه په دې د دستخط کولو نه انکاري شي. بل طرف ته ئې د پښتنو د ظلم او بربريت داستانونه بيانول شروع کړل چې په کښې اسلام پوري ټټوبې کول هم شامل وو. د پښتو متل دے چې تماش بين د نخښې منځ وُلي، دې ټولو ښاغلو قسم قسم اعتراضونه خو کول ولې

په سوات او پښتنه سيمه کښې د لګېدلي اور د وژلو هيڅ طريقه او حل ورسره نۀ وۀ.

عوامي نېشنل پارټۍ د باچا خان د عدم تشدد په لاره روانه يوه داسې سياسي ډله ده چې همېشه ئې د امن او خبرو اترو لاره خوښه کړې ده او هم په دغه لار هغوي د ملاکنډ ډوېژن نه هغه اور مړ کړو د کوم په مړ کولو کښې چې د پاکستان فوځ پاتې راغلے وۀ او بېشمېره پوليس او د ملېشې ځوانان ئې خوراک شوي وو.

شايد چې د هم دغې خلقو د بې ځايه اعتراضونو وجه وه چې صدر مملکت آصف علي زرداري د نظام عدل ريګولېشنز پارليمنټ ته د راوړو صدارتي فرمان جاري کړو. ځنو خلقو د صدر مملکت دې فېصلې ته دانشمندانه فېصله ووې خو د عوامي نېشنل پارټۍ مشرانو پرې د خفګان اظهار په دې وجه وکړو چې مونږ په حېثيت د يو حليف په اعتماد کښې وانۀ خستے شو او د هغوي دا خفګان او ګيله په ځائے هم وه. نۀ پوهېږو چې صدر مملکت دا مسئله ولې پارليمنټ ته راوړل غوښتل حالانکې د دې نه اګاهو د چيف جسټس د بحالۍ مسئله چې په هر لحاظ د دې نه لويه مسئله وه، هغه ئې د ميا نواز شريف د بيا بيا مطالبې باوجود هم پارليمنټ ته نۀ وه راوړې او په يو ايګزيکټيو آرډر ئې حل کړې وه.

بهرکيف کله چې نظام عدل ريګولېشنز پارليمنټ کښې پېش کړے شو نو د ايم کيو ايم د غړو د بائيکاټ باوجود دغه نظام عدل ريګولېشنز قامي اسمبلۍ متفقه طور منظور کړو. سوات کښې خلقو د خوشحالۍ نه شېرينۍ ووېشلې او د ټول ملاکنډ خلق پرې ډېر زيات خوشحاله شو.

د دې نه پس د ايم کيو ايم او د نورو مخالفينو د طرف نه يو شور او غوغا راپورته شوه چې تر اوسه جاري ده. د ايم کيو ايم نه علاوه د ملک يوه سياسي ډله هم د دې مخالفه نۀ ده. البته د جماعت اسلامي د ښاغلي سراج الحق يو بيان هغه ورځ اخبارونو کښې راغلے وۀ هغۀ وئيلي وو چې دا نظام دې ټول ملک کښې نافذ کړے شي او دا ئې هم وئيلي وو چې حکمرانان عوامي زور ته ټينګ نۀ شو. د هغوي دا خبره صحيح ده ځکه چې هغوي (يعني ايم ايم اې) عوامي زور ته پينځۀ کاله ټينګ شوي وو او د خلقو له خوا د شريعت نافذولو د مطالبو باوجود ئې دغې کار ته



د اې اين پي صوبائي صدر افراسياب خټک، سينئر منسټر بشير احمد بلور، د پښتونخوا صوبې د اطلاعاتو وزير ميا افتخار حسېن او د ملاکنډ ډيوېژن ډي آئي جي تنوير حق د سوات نه د راغلي امن جرګې د غړو سره د خبرو د پاره روان دي

غاړه نۀ وه ایښې حالانکې د خلقو نه ئې ووټ د قرآن او د اسلام په نوم اخستے وۀ او دا لا څۀ کوې په خپل ټول دور حکومت کښې ئې د تحریک نفاذ شریعت محمدي امیر مولانا صوفي محمد چا چې د دې نظام غوښتنه کوله، هم په جېل کښې ساتلے وۀ.

ځنې د پرائیویټ چېنلو تجزیه نګاران او د اخبارونو کالم نګاران دا خبره کوي چې عوامي نېشنل پارټۍ د باچا خان د لارې نه انحراف وکړو. نۀ پوهېږم چې دوي دې ته انحراف ولې وائي. باچا خان د امن داعي وۀ او په ملاکنډ ډویژن کښې د امن په خاطر د هغې ځائے د خلقو په غوښتنه عوامي نېشنل پارټۍ د مخکښې نه په نافذ شوي عدل رېګولېشنز عملدرآمد شروع کړو. ډېر پکښې دا خبره کوي چې په ملک کښې به دوه قانونونه چلېږي او د دې نتیجې به ښې نۀ وي. خومره پورې چې د دوو قانونونو خبره ده نو په دې ملک کښې کله یو قانون چلېدے دے؟ په فاټا کښې ایف سي آر چلېږي چې تر اوسه پرې دغو تجزیه نګارانو د لیکلو زحمت نۀ دے کړے. په ملاکنډ ډویژن کښې تر اوسه پاټا رېګولېشن چلېدو چې د ملاکنډ یو مشهور عوامي خپل تحریک د هغې خلاف جوړ شوے وۀ. دغسې د نېب یو خپل قانون دے، فوځي عدالتونه پکښې بیل وخت په وخت چلېدلي دي. خو دې ښاغلو ته ګناه ځکه نشته چې دوي د سوات د حال نه خبر نۀ دي، ښۀ پُرامن ماحول کښې ژوند کوي او د زمیني حقائقو هیڅ ادراک نۀ لري.

اوس هر کله چې د نظام عدل دا مسوده د خلقو منتخب شوو نمائندګانو په قامي اسمبلۍ کښې منظوره کړه نو په دې د واوېلا کولو نه هیڅ نۀ جوړېږي. اوس په دغې زېلې شوې سیمه کښې د شوو نقصاناتو ازاله پکار ده. دغلته چې کوم سکولونه، هسپتالونه او نور سرکاري عمارتونه تباه کړې شوي دي یا څومره خلقو ته مالي او ځاني زیانونه رسېدلي دي، د هغې تلافي د محدود وسائل لرونکي صوبائي حکومت د وس نه بهر ده نو وفاقي حکومت له پکار دي چې د صوبائي حکومت سره په دې ترقیاتي کارونو کښې پوره پوره مرسته وکړي. دا اوس د هغو قوتونو هم فرض جوړېږي کوم چې د دهشت ګردۍ خلاف جنګېږي چې د دې سیمې د بیا ودانۍ او دلته د امن و امان د قائم ساتلو دپاره د پښتونخوا حکومت سره مالي امداد وکړي ځکه چې د دوي سره د دهشت ګردۍ خلاف په جنګ کښې د دې سیمې د خلقو دومره زیان شوے دے چې د اندازې نه بهر دے.



ایم کیو ایم د نظام عدل رېګولېشن خلاف احتجاج کوي